# د قربانیانو مدافعه او زده کړه

مونږ قربانیانو، ژغورل شوو (ژغورونکو)، نږدې عزیزانو او د صدماتي پېښو شاهدانو ته د مدافعې وړیا او محرم خدمتونه چمتو کوو.

**د جنسي تیري 24-ساعته د ملاتړ شمیره: 509-624-7273**
لنډ پیغام لیږدلول د کاري ساعتونو په جریان کې شتون لري.

**د جرم د قربانیانو د ملاتړ شمیره: 509-747-8224**
د ټولو جرمونو ژغورونکي ښايي د کاري ساعتونو په جریان کې دې شمیرې ته زنګ ووهي او د یو مدافع وکیل سره د خبرو کولو غوښتنه وکړي.

مونږ هر هغه چا ته ملاتړ او د مدافعې خدمتونه وړاندې کوو چې د جرم له امله اغیزمن شوي وي، پرته له دې که دا قانون پلي کونکو ادارو ته راپور شوی وی یا په محکمه کې جریان لاندې وي. د قربانیانو مدافعه ملاتړ، معلومات او سرچینو او د ځانګړي ریپ اراونډ ملاتړ (پېچل شوی ملاتړ یا د ځواک او اړتیاو پوره کولو پر بنسټ ملاتړ چې موخه یې د یو کس یا کورنۍ سره د مثبتو اهدافو ترلاسه کولو لپاره مرسته کول دي) ته راجع کول وړاندې کوي تر څو خلک وکولی شي باخبره او ځواکمنه پریکړې وکړي.




LUTHERAN
**Community Services**
NORTHWEST

lcsnw.org

# د قربانیانو مدافعه او زده کړه

زمونږ هدف د صدمې له امله اغیزمن شوو لویانو او ماشومانو سره مرسته کول دي چې دوی خپل شخصي ځواک بیرته ترلاسه کړي. زمونږ خدمتونه وړیا او محرم دي. مهرباني وکړئ مونږ ته هر وخت زنګ ووهئ. مونږ ستاسو پوښتنو ځوابولو او ستاسو ملاتړ کولو لپاره دلته یو. مونږ کولی شو د جرمونو نږدې تولو ډولونو ته ملاتړ چمتو کړو. زمونږ په ځینې خدمتونو کې شامل دي:

### د خوندیتوب پلان جوړونه

مونږ دلته یو چې اختیارونه مطرح کړو، سرچینې چمتو کړو او یو پلان جوړ کړو چې تاسو لپاره سم وي.

### جنسي تیری او طبي مدافعه

هر څوک کولی شي د ملاتړ او معلوماتو لپاره زمونږ 24-ساعته ملاتړ شمیرې ته زنګ ووهي. مونږ ځایي بیړني خونو ته د روغتون 24-ساعته غبرګون چمتو کوو او هر هغه چا ته په شخصي توګه مدافعه چمتو کوو چې د طبي معاینې یا د شواهدو راټولو په لټه کې وي.

د واشنګټن د قانون لاندې، د جنسي تیري ژغورل شوي حق لري چې د طبي معاینې یا حقوقي اوریدنو په جریان کې یو مدافع وکیل یا ملاتړ کونکی کس ولري.

### حقوقي) قانوني) مدافعه

مونږ کولی شو د مدني او جنایي سیستمونو په بهیر کې معلومات او ملاتړ چمتو کړو. مونږ د محکمې د محافظت ساتنې) امرونو سره مرسته کوو. مونږ قانون پلي کونکو او د څارنوالۍ دفتر تر منځ همغږي هم کوو او په ټول بهیر کې په شخصي توګه ملاتړ چمتو کوو، د کشفي مرکو، دفاعي مرکو، محاکمو، او د سزا ورکولو اوریدنو په شمول.

### والکر روزل شوی سپی)

زمونږ د محکمې روزل شوی سپی دی او د LCSNW وکیل سره د جرمونو نږدې ټولو ډولونو کې ملاتړ چمتو کولو توان لري، ستاسو د یو نږدې عزیز په شمول چې د وژنې قرباني شوی وي.

### ټولنیزه زده کړه

مونږ مسلکیانو، سازمانونو او نورو ډلو ته روزنه وړاندې کوو چې غواړي زمونږ د خدمتونو او د صدمو اغیزو په اړه نور معلومات زده کړي.

## Resources

| | |
|---|---|
| LCS Northwest Counseling Services Intake | 509-747-8224 |
| Crime Check (to make a report) | 509-456-2233 |
| Emergency | 911 |

Follow LCS Spokane and Walker on Facebook